مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۸/۱۷

# دنګې ودانۍ، ړنګې ودانۍ

د شنبې شپې اورلګېدنه چې په منديي کې يې سلامت مارکېټ پوپنا کړ، بوازيني خطر نه و. زموږ دنګې ودانۍ له ډېرو نورو خطرونو سره هم مخ دي، دغه خطرونه په بالقوه ډول شته خو دا چې کله به وار کوي، خدای ته معلوم.

انجينير محمد صديق قيام په يوه تلويزيوني مرکه کې وويل چې د کابل په ډېرو ځايونو خصوصاً په تايمني او خيرخانه کې ځمکه شګلنه ده او لاندينی برخې يې له شګو او جغلو جوړې دي. دا ډول ځمکې د لوړو تعميرونو بار نه شي وړای او د زلزلې په وخت کې لويې ورانی رامنځته کولای شي.

د ښاغلي قيام په وينا د کابل د اکثرو دنګو ودانيو د جوړولو پر وخت د ځمکې مقاومت يو مخ له پامه غورځول شوی دی. له بلې خوا په اکثره تعميرونو کې د انجينيرۍ او مهندسی اساسات نه دي مراعات شوي. مثلاً يو چا يو درې پوړيز تعمير اخيستی دی، بيا يې پر سر درې نور پوړونه جوړ کړي دي. انجينيران له اول سره خپله نقشه د تعمير د ځګوالي، لويوالي، دروندوالي او نورو معيارونو پر اساس جوړوي او ساختماني مواد يې هم هماغسې انتخابوي. مثلاً که ودانۍ د درېو پوړونو لپاره ډيزاين کړي کېدای شي په ستنو يا پايو کې يې ۱۶ ميلي متري سيخونه ولګوي؛ خو که همدغه ودانۍ شپږ پوړيزه وي، بيا ممکن ورته ۲۰ ملي متري سيخونه وغواړي. د داسې تعميرونو مثالونه چې لومړی دوه، درې يا څلور پوړيز وو او اوس څلور پنځه نور چتونه وربانديې درول شوي دي، په تايمني او کلوله پشته کې شته.

ځيني افغانان چې په ايران کې يې مزدوري کړې ده، وايي چې هلته که د تعميرونو د ستنو په کانکرېټ کې يو ځای هم د غامبوسو د ځالو په شان «مورچه خوره» درلوده نو انجينير به يې نړوله او له سره به يې جوړوله. دا شی هغه وخت ليدل کېږي چې مساله (سمنټ، شګه او جغل) سمه ګډه شوې نه وي او يا په کافي اندازه نرمه نه وي چې د قالب تر بېخه او تر دېوالونو ورسېږي؛ نو قالب چې ايسته کړي، کانکرېټ يې ښوی نه راځي. ما په لاره کې هر وخت د ودانيو داسې ستنې ليدلي دي چې ان يو نيم ځای کې يې سيخ بربنډ ښکاري او کانکرېټ سم نه دی اچول شوی؛ خو پر سر يې د نورو چتونو ستنې درول شوې دي.

د طالبانو تر راپرځېدو وروستو په درې څلورو لومړيو کلونو کې د کابل ښار تولې ځمکې د ښاروالۍ له خوا زورواکو (عمدتاً د شمالي ټلوالې قومندانانو او د هغوی اشنايانو) ته ورکړل شوې چې ودانۍ وربانديې جوړې کړي. په هغه وخت کې ښاروالان د شمالي ټلوالې ملګري وو. دوی نه تم ځايونه پرېښودل، نه شنې ساحې او نه د نورو پروژو لپاره ښېلې شوې ځمکې. زورواکو په باد راوړو پيسو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

داسي تعميرونه جوړ کړل چې هېڅ معيار يې په پام کې ونه نيول. مثلاً اوس په ټوله دنيا کې د معيوبانو خيال ساتل کېږي او هر چېرته چې ودانۍ جوړېږي د معيوبانو لپاره هوارې لارې په کې په پام کې نيول کېږي چې خپل بايسکلونه وربانديې په اسانۍ سره وځغلوي. هېڅ ودانۍ چې تر دوو پوړونو زيات جګ وي، بې لفټه نه وي خو زموږ لس پوړيزې ودانۍ هم لفټ نه لري. په نورو ملکونو کې معيوبان خورا کم دي خو بيا هم دولتونه يې غم کوي؛ مګر موږ چې د جګړو په وجه سلګونه زره معيوبان لرو، په انجينيرۍ کې د دوی ستونزه په پام کې نه نيسو.

د دې ودانيو بل عيب د پارکينګ نشتوالی دی. له يوې خوا ښاروالۍ د پارکينګ لپاره ځمکه پرې نه ښوده له بلې خوا د دنګو ودانيو څښتنانو يې پروا ونه کړه. پکار خو دا وه چې د هرې ودانۍ تکاوي دې د موټرو پارکينګ ته بېله شوې وای؛ ځکه اوس هر دوکاندار موټر لري نو دا خپل موټر به چېرته دروي.

د ودانيو په برخه کې اوسني حکومت دومره غلط کارونه کړي دي چې راتلونکي حکومتونه به ډېره انرژي د دې غلطو په سمولو ولګوي او نوي کارونه به ځنې پاتې وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ